مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۰ / ۰۹ / ۰۳

# د دود ناخواله

چې په ځوانۍ يې رانه شور واخيست
ما وی چې ټول بدن مې اور واخيست
زه يې عالم منځ کې تنها پرېښودم
ما يې په ټول عالم کې تور واخيست
زړه يې له نورو پرسېدلی شين وو
د بل په تس کې له ما زور واخيست
ما ويلی زه به د جفا پور اخلم
هغې له ما د وفا پور واخيست
څوک د هوس او څوک د مينې لېوال
ما خوند له دې هغې له نور واخيست
ځواني د څو مستو شپېو يو څرک وو
ما نيم په تور نيم په پيغور واخيست
په هره مورګه او تاوکښ کې د ژوند
پر مخ مې سوک له هر يو لور واخيست
د دود ناخوالو او ترخو وختونو
زما له ژوند ټنګ و ټکور واخيست
**شعروزمه خيالونه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ